## افغانستان امن نه دی

## افغانستان ته د کډوالو جبري بېرته لېږلو پر ضد په جرمني کې سراسري اعتراضي خوځښت

## د ۲۰۲۱م د جون ۵مه

# راځئ، چې د زور- زیاتي او د بې غږه کډوالو د ایستلو په وړاندې په یووالي سره غږ شو!

د کډوالو د جبري ایستلو پر ضد د اعتراض په موخه د کډوالو د حقوقو ملاتړ سازمانونه یو ځل بیا **د ۲۰۲۱م د جون په ۵مه په یوه غږ سره نه وایي** او د هغو لپاره د جرمني په هېواد کې د اوسېدو غوښتنه کوي.

شاید هېڅ څوک هم د افغاني کډوالو په کچه د زور زیاتي قرباني نه وي. میلیونونه افغانان په خپل هېواد کې د ننه د خورا زور زیاتي فجایعو له امله تښتي او د هوسا او امن ځای په موخه خپل وطن خوشي کوي. له هغو څخه یو شمېرو د جرمني هېواد ته سیمه راوړې ده، چې په افسوس سره په دې هېواد کې هم له هماغه لومړۍ ورځې څخه له زور زیاتي سره مخ شوي دي. د جرمني دولت هغه کسان، چې د کډوالۍ غوښتنه یې د کډوالو د چارو اداري لخوا منل شوې نه ده، په بې شرمۍ سره د زور او زیاتي له لارې د افغانستان په نامه وژنتون ته لېږي. زور زیاتی یوازې د بربریت څرګنده نښه ده.

د زور زیاتي د واقعیتونو په وړاندې نباید چپ پاته شو. زور زیاتی، پرته له دې، چې د کومې سرچینې او یا ځای څخه پلی کېږي، باید د نېوکې وړ وګرځي او رد شي. **باید د زور زیاتی او زور زیاتي کوونکي په وړاندې یوغږي او هم غږي ودرېږو.**

طالبانو سره د امریکائیانو د سولې تړون څخه وروسته، د افغانستان د خلکو وژنې د هغو تروریستانو په لاس، چې په پاکستان، قطر او سعودي عربستان کې د امریکا او انګرېز په مالي مرستو سره روزل کېږي، خپل لوړې څوکې ته ورسېدي. د افغانستان ټولې سیمې امن نه دي او ټولې ټولنیزې طبقې او قشرونه د یرغل موخه ګرځي.

د افغانستان هېڅ ځای امن نه دی او هېڅ څوک امنیت نلري، هغه ماشوم، چې لا نړۍ ته راغلی نه دی، له مور سره یو ځای ادېرې ته لېږدول کېږي.

افغانستان نن د نړېوال تروریسم په ګرو کې رانغښتی دی. ټول تروریستي باندونه او د تروریستانو ټول روزونکي هېوادونه خپلې نیابتي جګړې په افغانستان کې تر سره کوي او د تروریسم په ځواکمنولو کې برخه لري. دوی د طالبانو ټول مالی، پوځي، اخلاقي او سیاسي امکانات برابروي او له طالبانو سره یې هوډ کړی، چې د کابل لاس ناستي دولت پر ځای یې کښېنوي.

له دې وضعې سره سره د جرمني د کورنیو چارو وزیر هورست زې هوفر او د جرمني هېواد د ډېرو ایالتونو د کورنیو چارو وزیران افغانستان ته د افغانانو په بېرته لېږلو ټینګار لري او پلې کوي یې. له ۲۰۱۶م کال څخه راهیسې له ۱۰۰۰ زیات افغانان افغانستان ته بېرته استول شوي دي. ایستل شوي په کومه وجه هم «مجرمان او ورانکاران» نه دي، بلکه هغه افغانان دي، چې له کلونو راهیسې په جرمني کې ژوند کوي. دوی هېڅ جرم ترسره کړی نه دی، دوی د کار ځای او یا د ژبې د زده کړې له مرکزونه څخه افغانستان ته لېږې.

د دې ایستل شویو د پام وړه شمېر نه په افغانستان کې زېږېدلي او نه یې هم هلته ژوند کړی دی، خو د جرمني دولت دغه عمل، چې د هغو د حق خلاف دی، ترسره کوي. دوی هغه هېواد ته لېږدول کېږي، چې هلته د ژوندانه د سرته رسولو هېڅ راز امکانات نلري. له دې کبله د بېرته لېږل شویو ژوند هم په افغانستان کې له جدي خطر سره مخ دی.

د امریکا او ناتو د پوځونو وتل د افغانستان د امن کېدو په مانا نه ده. برعکس د دوی له وتلو وروسته امنیتي وضعه به لا بده شي. جرمنی له ۲۰۰۱م کال څخه راهیسې په خپل پوځي ګډون سره په افغانستان کې د افغانستان د وضعې په اړوند مسئولیت لري، نن دې مسئولیت ته په پاملرنې سره باید افغاني کډوالو ته اقامت ورکړي.

جرمنی ۷۰ کاله پخوا د ژنیو د تړون په لاسلیکولو او په ۲۰۱۶م کې د هغې په امضاء کولو سره په نیویارک کې ژمنه کړې، چې د بشر له حقونو څخه ملاتړ کوي. خو د جرمني دولت له افغاني کډوالو څخه د کډولۍ حق د غیر قانوني پرېکړو په وزله اخلي: وروسته له دې چې د مدافع وکیلانو لخوا د کډوالو د کډوالۍ په هکله قانوني ګام واخیستل شو، د BAMF له نیمو ډېر ردوونکې پرېکړې نامجازه وګڼل شوې او هغو ته په جرمني کې د اوسېدو ویزه ورکړی شوه.

د جون په میاشت کې د کورنیو چارو د وزیرانو کنفرانس، په جولای کې د بشر د حقونو د ۷۰مې کلیزې او په سپتمبر کې د جرمني د لویې جرګې د ټاکنو په پام کې لرلو سره، له ټولو ډلو، ټولنو، سازمانونو او یوازې وګړو څخه غوښتنه کوو، چې افغانستان ته د جبري لیږدولو په وړاندې ودرېږي او د سراسري اعتراضي خوځښت په ورځ په جرمني کې **د ۲۰۲۱م دجون په ۵مه** کې ونډه واخلي او ناره ووهي، وپستني تم کړی!!!

**مونږ له ټولو غوښتنه کوو، چې اوډلې (سازمان موندلي) اعتراضونه په لار واچوئ، پلاکاتونه په خپلو کورو ښخ کړئ، شعارونه له خپو برندو څخه ځوړند کړئ، پتنګا له خپلو کړکیو اوچت کړئ!**

د دې زور زیاتي او بربریت پر ضد ستاسو د پیوستون په هیله!

**غلی کښېناستل شرموونکي دي، ژوندی دې وي غږ پورته کول!**

معلومات: چاپي قالبونه او په همدې توګه د سرو پتنګانو د جوړولو لارښود له دې ځایه ترلاسه کولای شی: www.afghanistan.not-safe.de

#AfghanistanNotSafe